په هغو کسانو کې چې ستاسې نه مخکې وو، یو سړی و چې زخم یې درلود، نو (له ډېر درد څخه یې) فریاد کاوه، چاقو یې راواخېست او خپل لاس یې پرې کړ، نو تر هغه یې وینه ونه درېده چې مړ شوی نه و، نو الله تعالی وفرمایل:"زما بنده زما لور ته (په راتګ سره) پر ځان بیړه وکړه، نو ما پرې جنت حرام کړ

له الحسن څخه روایت دی، هغه وایي چې: جندب بن عبدالله رضي الله عنه راته په دې مسجد کې حدیث بیان کړ او مورِ د هغه له روایت نه وروسته هېڅکله (دا خبره) هېره کړې نه ده، او مورِ دا وېره هم نه لرو چې جندب به په رسول الله دروغ ویلي وي، هغه وایي چې: رسول الله فرمایلي: په هغو کسانو کې چې ستاسې نه مخکې وو، یو سړی و چې زخم یې درلود، نو (له ډېر درد څخه یې) فریاد کاوه، چاقو یې راواخېست او خپل لاس یې پرې کړ، نو تر هغه یې وینه ونه درېده چې مړ شوی نه و، نو الله تعالی وفرمایل:"زما بنده زما لور ته (په راتګ سره) پر ځان بیړه وکړه، نو ما پرې جنت حرام کړ».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي خبر راکوي چې زمورِ نه وړاندې یو سړی زخمي شوی و، نو فریاد یې کاوه او په درد یې صبر ونه کړ، چاړه یې راواخېسته، خپل لاس یې پرې کړ او مرګ ته یې بیړه وکړه، وینه یې تر هغه ونه درېده تر څو چې مړ شو، الله تعالی وفرمایل: «زما بنده په خپل ځان وژنې سره زما لور ته بیړه راوکړه، یقینا چې جنت مې پرې حرام کړ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2981